# فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د اداري نظر | ۳ |
| ۲ | مقدمه | ۵ |
| ۳ | سوال | ۹ |
| ۴ | جواب | ۱۰ |
| ۵ | (۱) تراويح په عهد نبوي کښي | ۱۱ |
| ۶ | د نبي کريم ﷺ د تراويحو لمونځ په جماعت سره | ۱۲ |
| ۷ | پر هغه حديث بحث چي د اتو (۸) رکعاتو تراويحو استدلال ځني کيږي | ۱۴ |
| ۸ | (۲) تراويح د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په زمانه کښي | ۱۷ |
| ۹ | حارث بن عبد الرحمن رحمه الله تعالى | ۱۷ |
| ۱۰ | يزيد بن خصيفه رحمه الله تعالى | ۱۸ |
| ۱۱ | محمد بن يوسف رحمه الله تعالى | ۲۱ |
| ۱۲ | د بحث خلاصه | ۲۲ |
| ۱۳ | د امام بيهقي رح پر تطبيق شواهد او قرائن | ۲۴ |
| ۱۴ | د سائب بن يزيد رضی الله عنه د روايت په تاييد کښي نور روايات | ۲۵ |
| ۱۵ | حضرت امام ترمذي رحمه الله تعالى | ۲۹ |
| ۱۶ | حضرت علامه زرقاني المالکي رحمه الله تعالى | ۳۰ |
| ۱۷ | حافظ ابن عبد البر رحمه الله تعالى | ۳۱ |
| ۱۸ | حافظ موفق الدين رحمه الله تعالى | ۳۱ |
| ۱۹ | امام محي الدين النووي رحمه الله تعالى | ۳۲ |
| ۲۰ | علامه شهاب الدين احمد بن محمد قسطلاني رحمه الله تعالى | ۳۳ |
| ۲۱ | علامه شيخ منصور بن يونس بهوتي حنبلي رحمه الله تعالى | ۳۴ |


Download from: aghalibrary.com

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله تعالی | ۳۵ |
| ۲۳ | (۳)<br>تراویح د صحابه کرامو ﷺ او تابعینو رحمهم الله تعالی په زمانه کښې | ۳۶ |
| ۲۴ | د بحث خلاصه | ۴۱ |
| ۲۵ | (۴)<br>تراویح د څلورو ائمه وو رحمهم الله تعالی په نزد | ۴۳ |
| ۲۶ | فقه مالکي | ۴۳ |
| ۲۷ | فقه شافعي | ۴۵ |
| ۲۸ | فقه حنبلي | ۴۶ |
| ۲۹ | د بحث خاتمه او یو څو ضروري فوائد | ۴۷ |
| ۳۰ | (۱) شل رکعاته تراویح سنت مؤکد دي | ۴۷ |
| ۳۱ | (۲) د خلفاء راشدینو د جاري کړي سنت په باره کښې د نبي کریم ﷺ وصیت | ۴۹ |
| ۳۲ | (۳) د څلورو ائمه وو رحمهم الله تعالی د مذهب څخه وتل جائز نه دي | ۵۰ |
| ۳۲ | (۴) د شلو رکعاتو تراویحو حکمت | ۵۰ |


Download from: aghalibrary.com

## د مدرسة الفاروقؓ الاسلامية
## د ادارې نظر

څرنګه چې اهل اسلام د رمضان المبارک په مياشت کې د رمضان د روژې د نيولو سره سره د رمضان قيامه (تراويح) هم کوي، چې دا د پيغمبر اسلام عليه افضل الصلوات والسلام د هغه جد وجهد د پيروئ په خاطر چې په دې مبارکه مياشت کې به يې د الله سبحانه وتعالی په عبادت کې کاوه، او قرنا فقرنا مسلمانان تر نن زمانې پورې په ټولو بلادو کې بلا نکيره دغه شل رکعاته تراويح د رمضان المبارک په مياشت کې اداء کوي، او همدغه د مسلمانانو تعامل ګرځيدلی دی، او د خلفاء راشدينو طريقه جاريه مسنونه ده.

خو ځيني خلک د نه تحقيق لرلو په وجه د تراويحو پر دغه شل رکعاته تعداد باندې اعتراض کوي او تراويح اته رکعاته بولي، او د شلو رکعاتو کونکو ته بد وايي، او وايي چې د دې ثبوت نشته.

نو د داسې خلکو د اعتراض د دفع کولو لپاره او د عامو مسلمانانو د ذهن روښانه کولو لپاره زموږ يو ورور د مدرسة الفاورقؓ الاسلامية استاد او جيد عالم مولوي عنايت الله مد ظله په دې موضوع کښې د فقيه العصر مولانا محمد يوسف لدیانوي رحمه الله تعالی د کتاب (آپ کی مسائل اور انکا حل) څخه پر شل رکعاته تراويح باندې علمي بحث ـــ کافي او شافي وليدی، نو يې د

Download from: aghalibrary.com

ځینو تزئیداتو سره په پښتو ژبه ترجمه کړی، تر څو پښتو ویونکي مسلمانان هم د دې عملي بحث څخه مستفید سي.
الله سبحانه وتعالی دي دوي ته نور هم د اسلام او مسلمانانو لپاره د خدمت توفیق ورکړي، ومن الله توفیق.

د مدرسة الفاروق رضی الله عنه الاسلامیه
اداره

# مقدمه

**الحمد لله نحمده و نصلي على رسوله الكريم وعلى آله واصحابه اجمعين.**

دا چي موږ وينو چي په هر عصر کښي د الله تعالى د دين د خدمت لپاره د خلګو د ضرورت سره سم علماء کرامو تر خپله وسه خدمت کړيدی، او د عامو مسلمانانو هغه سوالات چي دوي ورسره لاس او ګريبان دي ـ تحريراً او تقريراً ورحل کړيدي، نو په همدې سلسله کښي د بعضي خلګو لخوا څخه د امام ابوحنيفه (رح) په مذهب مهذب باندي څه پوښتنې د عامو خلګو په ذهنو کښي ور اچول کيږي لکه : قرائت خلف الامام، آمين بالجهر، رفع اليدين او داسي نور. چي ددغه پوښتنو د جملې څخه په شل (٢٠) رکعاته تراويحو هم اعتراض کيږي چي اهل سنت اته (٨) رکعاته تراويح کوي او د شلو رکعاتو تراويحو خو يا ثبوت نسته او يا خو يې د ثبوت احاديث کمزور يعني ضعيف دي.

په همدې باره کښي تير کال (١٣٨٨ هـ ش) مطابق (١٤٣٠ هـ ق) د روژې د مياشتي څخه يو څو ورځي مخکي يو ډير ديندار سړی مدرسې ته راغی او دا سوال ورته پيدا وو چي ايا شل (٢٠) رکعاته تراويح ثبوت لري؟ ما ورته وويل هو، نو هغه راته وويل چي ځيني

خلکۍ پيدا سويدي چي وايي: شل رکعاته تراويح بدعت دی او ثبوت ئې نسته، ما هغه ورور ته د شل رکعاته تراويحو د ثبوت په هکله څه ناڅه دلائل پيش کړه چي د هغه قناعت حاصل سو.

نو دا فکر راته پيدا سو چي د شل رکعاته تراويحو پر ثبوت يوه تحقيقي رساله وليکل سي او د عامو مسلمانانو ورونو دغه پورته سوال په کامله توګه حل سي. نو ددې موضوع د تحقيقي ليکلو لپاره مي قصد وکړئ، خو د خپلې کم علمۍ په وجه به دا خبره مشکله راته معلوميده چي خپله پر دغه موضوع تحقيق او څېړنه وکړم او په دې موضوع پوري اړوند ټول مواد را جمع کړم، نو بعضي هغه کتابونو يا رسالو ته مي خپله توجه واړول چي د تراويحو پر موضوع ليکل سوي وې، خو هلته مي يو مشکل وليدی چي يا خو به ځيني کتابونه په دې موضوع کښې ډير اوږده وه او يا به ډير مختصر وه، او يا به په ځيني رسالو کښې پوره مواد نه وه راجمع سوي، او ځيني رسالې بيا بيخي داسي ليکل سوي وې چي هلته به بحث ډير علمي وو او يا به ځني مواد پکښې ضعيف وه او اشاره به نه وه ورته سوې يعني عام خلکۍ به نه په پوهيدل، نو بيرته مي دا اراده وکړه چي د خپل استعداد موافق څه مواد را جمع کړم.

په دې فکر کښې وم چي يوه ورځ مي د روژې د مسائلو د کتلو لپاره د حضرت مولانا محمد يوسف لديانوي شهيد ؒ کتاب «آپکی مسائل اور ان کا حل» راواړوئ چي نابېره د «بيس رکعات تراويح پر علمي کافی بحث» يو عنوان تر سترګو سو هغه مي مطالعه کړئ،

زما په نظر دومره بهترين روان عام فهمه او د انصاف څخه ډک او په ادبي انداز کښي ليکل سوی وو چي ما خپله هر څومره کوښښ کړی وای نو د حضرت مولانا محمد يوسفؒ د مضمون په سلو کښي لس فيصده ته به هم نه وای رسيدلی، نو د حضرت شهيدؒ دغه مضمون می په پښتو ترجمه کړئ او څني مواد مي ورباندي اضافه کړل:

(۱) حضرتؒ چي کومو کتابونوته کومي حوالې ورکړي وې هغه مي وکتلې او زموږ سره چي کومي نسخې موجودي وې د هغو سره مي موافق کړې.

(۲) د جلد او صفحې پر حوالو سربيره مي باب او مکتبه هم ور اضافه کړل تر څو د باب په ذريعه حواله اسانه پيدا سي که څه هم نسخه بدله سي.

(۳) د احاديثو د کتابو څخه چي کومي حوالې ورکړل سوي وې د هغه حديث نمبر او باب مي ورباندي اضافه کړل.

(۴) د اصول حديث اړوند چي کوم بحث وو هلته فقط دا ليکل سوي وه چي په اصول حديث کښي دا راځي، نو موږ يې حواله هم وليکل او بحث ته مو هم اشاره کړيده.

(۵) مضمون مو د رسالې په شکل واړوئ او هر بحث ته مو جلا جلا عنوان ورکړئ.

نو کومه رساله چي تاسو په خپلو لاسونو کښي وينئ د «شل رکعاته تراويح او د هغو د ثبوت» په عنوان ده چي الحمد لله په داسي

انداز او پوره تحقيق سره ليکل سوې ده چي که هر څوک يې د انصاف په نظر او فکر مطالعه کړي نو انشاء الله تعالی خامخا به د شلو رکعاتو تراويحو قائل کيږي.

د الله تعالی څخه قوي اميد دی چي په خپل دربار کښي يې قبول کړي او زموږ ددغه رسالې په ترجمه او ترتيب او تسهيل کښي نيت يوائحي خپله رضا وګرځوي.

او په آخر کښي د هغه ټولو ملګرو څخه مننه کوم چي درسالې په کمپوز کښي يې برخه اخيستې ده. الله تعالی دي په دنيوي او اخروي امورو کښي برياوي ورپه برخه کړي.

يادونه: که چيري په کتاب کښي کومه علمي، يا طباعتي غلطي ووينئ نو موږ ته اطلاع راکړئ.

وما توفيقي الابالله عليه توکلت و اليه انيب
العبد الضعيف عنايت الله مخضود
فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون کراچي
و خادم مدرسة الفاروق ﷺ الاسلامية، دوهمه ناحيه، کندهار

الحمـد لله رب العـالمين، والـصلوة والـسلام على سيـد الانبيـاء والمرسـلين، وعلى آله وصحبه اجمعين

بسم الله الرحمن الرحيم

سوال: ځيني خلک دعوه کوي او وايي چي تراويح يـوازې اتـه (۸) رکعاته سنت دي، ځکه چي په صحيح بخاري کښي حديث دی چي د حضرت عائشې صديقې ﵂ څخه چي کلـه پوښـتنه وسوه چي د نبي کريم ﷺ لمونځ به په روژه کښي څنګه وو؟ نو هغې وفرمايل چي: نبي کريم ﷺ به په رمضان او غير رمضان کي تر اتـه (۸) رکعاتـه زيـات نـه کول. همدارنګه د حضرت جابر ﵁ څخه صحيح روايت دی چي نبي کريم ﷺ اته (۸) رکعاته تراويح او وتر ورکړه.

ددې په مقابل کښي چي د شلو (۲۰) رکعاتو د کولو کوم حديث نقل کيږي هغه بالاتفاق ضعيف دی، او دا کسان دا دعوه هم کوي چي خپله حضرت عمر ﵁ هم د يوولسو (۱۱) رکعاتو تراويح د کولو امر کړی وو، لکه څرنګه چي په موطا امام مالک؆ کي د سائب بن يزيد ﵁ څخه روايت دی، او ددې خلاف چي کوم د شلو (۲۰) رکعاتوتراويح روايت دی اول خو صحيح نه دی او که چيري صحيح هم وي نو کيداي سي چي هغه دي اول د شلو (۲۰) رکعاتو تراويح حکم ور کړی وي، ليکن وروسته چي ورته معلومه سوې وي چي نبي

کريم ﷺ اته (۸) رکعاته تراويح کولې نو د سنت مطابق د اته (۸) رکعاتو د کولو حکم به يې ورکړی وي. په هر حال يواځي اته (۸) رکعاته تراويح د نبي کريم ﷺ او خلفاء راشدينو ﷺ سنت دی، کوم خلك چي شل رکعاته تراويح کوي هغه د سنت خلا ف کار کوي. تاسو ووایاست چي د دغه ورونو خبره تر کومه صحيح ده؟

**جواب**: دغه ورونو خو د خپل مسلک وضاحت کړيدئ اوس زه د خپل مسلک وضاحت کوم، په دې کښي کوم مسلک صحيح دی؟ فيصله تاسو خپله وکړئ!

دغه بحث پر څلورو حصو تقسيموم:

۱ : .......... تراويح د نبي کريم ﷺ په زمانه کښي.
۲ : ..........تراويح د حضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کښي.
۳ : .......... تراويح د صحابه ﷺ او تابعينو (رحمهم الله) په دور کښي.
۴ : .......... تراويح د څلورو ائمه وو (رحمهم الله) په نزد.

(۱)

# تراويح په عهدِ نبوي کښې

نبي کريم ﷺ په متعددو احاديثو کښې د رمضان د قيام ترغيب ورکړی دی:

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه حديث دی:

**كان رسول الله ﷺ يرغب في قيام رمضان من غير ان يامرهم فيه بعزيمة فيقول: من قام رمضان ايماناً واحتساباً غفر له ماتقدم من ذنبه. فتوفي رسول الله ﷺ والامر على ذالک ثم كان الامر على ذالک في خلافة ابي بكر رضي الله عنه وصدراً من خلافة عمر رضي الله عنه.** (جامع الاصول ج (۹ ) ص (۴۰۸) حديث - ۷۱۲۰ - الفرع الثامن فى قيام رمضان بروايت بخاري، مسلم، ابى داؤد، ترمذي، نسائى) مكتبة دار الكتب العلميه بيروت موطا امام مالک ج - ۱ ص - ۹۶ باب الترغيب فى الصلوة فى رمضان )

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به د رمضان د قيام ترغيب ورکوی، خو په قطعيت سره يې حکم نه کوی، لکه څرنګه چي فرمايله به يې: چا چي د ايمان په حالت کښې او د ثواب په نيت د روژې د مياشتي قيامه وکړه د هغه مخکني ګناهونه معاف سول. نو دا معامله پر همدغه حالت روانه وه چي رسول الله ﷺ وفات سو، بيا د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په دور کښې هم همدغه حال وو، او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلا فت په شروع کښې هم همدغه حالت وو.

په یو بل حدیث شریف کښي راځي:

**ان الله فرض صیام رمضان وسننتُ لکم قیامه، فمن صامه وقامه ایماناً واحتساباً خرج من ذنوبه کیوم ولدته امه** ( جامع الاصول ج ۹ ص ۴۰۹ حدیث - ۷۱۲۲ - روایت نسائی ، الفرع الثامن فی قیام رمضان)

**ترجمه** : بیشکه الله تعالی په تاسي باندي د رمضان روژه فرض کړیده، او ما ستاسي لپاره د دي قیامه سنت ګرځولې ده، نو چا چي د ایمان په جذبه او د ثواب په نیت د دې قیامه وکړه او روژه یې ونیوله هغه د خپلو ګناهونوڅخه داسي وځي لکه هغه ورځ چي دی خپلي مور وزیږوی.

## د نبي کریم ﷺ د تراویحو لمونځ په جماعت سره

د نبي کریم ﷺ د تراویحو لمونځ په جماعت سره کول هم په متعددو احادیثو کښي ثابت دی، مثلاً:

۱- د عائشې رضي الله عنها حدیث دی، په هغه کښي په درو (۳) شپو کي د لمانځه کولو ذکر دی، اوله شپه تر اولې حصې پوري، دوهمه شپه د شپې تر نیمایي حصې پوري، دریمه شپه تر پیشلمي پوري. ( صحیح بخاري ج (۱) ص (۲۶۹) (باب فضل من قام رمضان)

۲- د ابوذر رضي الله عنه حدیث دی، په هغه کښي په درویشتمه (۲۳) شپه د شپې تر اولي حصې پوري، په پنځه ویشتمه (۲۵) شپه د شپې تر نیمایي پوري، او په اووه ویشتمه (۲۷) شپه تر فجر اول پوري د قیام

ذکر دی. (جامع الاصول ج (۶) ص (۱۳۶) حديث - ۴۲۲۰ – (الفصل الخامس فی قيام شهر رمضان بروايت ترمذي ، ابوداؤد و نسائي)

۳- د نعمان بن بشير ﷺ روايت دی، چي مضمون يې بعينه د ابوذرﷺ د حديث د مضمون سره برابر دی. ( جامع الاصول ج (۶) ص (۱۳۷) حديث - ۴۲۲۱ - (باب فی قيام شهر رمضان نسائي)

۴- د زيد بن ثابت ﷺ حديث دی، په هغه کښي صرف د يوې شپې ذکر دی. (جامع الاصول ج (۶) ص (۱۳۴) حديث -۴۲۱۸ - (الفصل الخامس فی قيام شهر رمضان بروايت بخاري ، مسلم، نسائي ،ابوداؤد)

۵- د حضرت انس ﷺ حديث دی، په هغه کښي هم صرف د يوې شپې ذکر دی. (صحيح مسلم ج (۱) ص (۳۵۲) باب النهی عن الوصال)

ليکن نبي کريم ﷺ د تراويح پر جماعت مداومت (هميشتوب) نه دی کړئ، او ددې انديښنې اظهار يې وفرمايه چي داسي نه چي پر تاسي فرض نه سي، او په خپل حال په کورو کښي يې دتراويح دکولو حکم ورکاوه. (حديثِ زيد بن ثابت ﷺ وغيره)

په رمضان المبارک کښي د رسول الله ﷺ مجاهده نوره هم زياتيدله، خصوصاً د رمضان المبارک په اخري عشره کښي خو يې ټوله شپه د قيام (قيامي) معمول وو، او په يو ضعيف روايت کښي دا هم راغلي دي چي د نبي عليه السلام په لمانځه کي اضافه راتله:

عن عائشة ﷺ قالت: كان النبي ﷺ اذا دخل رمضان تغير لونه وكثرت صلوته وابتهل في الدعاء واشفق لونه. (فيض القدير شرح جامع الصغير ج (۵) ص (۱۶۸) حديث - ۶۶۸۱ -(باب (كان)، و فيه عبد الباقي قال الدار القطنی يخطئ كثيراً) مكتبة دار الكتب العلميه بيروت)

**ترجمه**: چي کله به د رمضان المبارک میاشت داخله سوه د رسول الله ﷺ رنګ به تغییر پیدا کړی، او لمونځ به یې ډېر سو، او په دعاء کښې به یې کوښښ کاوه، او ویره به یې په رنګ مبارک کښې ښکاره سوه.

## پر هغه حدیث بحث چي د اتو (۸) رکعاتو تراویحو استدلال ځني کیږي

په هیڅ صحیح روایت کښي دا نه دي راغلي چي نبي کریم ﷺ په رمضان المبارک کښي د تراویحو کوم د جماعت لمونځ ورکړی چي په دې جماعت کښي یې څو رکعاته تراویح ورکړي دي ؟

د حضرت جابر رضي الله عنه **څخه منقول دي چي**: صرف یوه شپه رسول الله ﷺ **اته (۸) رکعاته او وتر ورکړه**. (موارد الظمآن ص (۲۳۰) قیام اللیل مروزی ص (۱۵۷) مکتبة سبحانیه مجمع الزوائد ج (۳) ص (۳۰۴) حدیث -۵۰۲۰ - (باب قیام رمضان مکتبة دار الکتب العلمیه بیروت) بروایت طبرانی و ابو یعلی)

مګر په دې روایت کښي عیسی بن جاریة الا نصاري المدني رح راوي متفرد دی، چي د محدثینو په نزد ضعیف او مجروح دی. د جرح او تعدیل امام یحیی بن معین رح د ده په باره کښي فرمایي: (**لیس بذاک**) یعني هغه قوي نه دی، او همدارنګه فرمایي: ( **عنده مناکیر** ) یعني د هغه سره متعدد منکر روایتونه سته. امام ابوداؤد رح او امام

نسائیؒ هغه ته منکَر الحدیث ویلي دي، او امام نسائيؒ هغه ته متروک هم ویلي دي، ساجيؒ او عُقَیليؒ په ضعفاوو کښي ذکر کړی دی، او حضرت ابن عديؒ فرمايي چي: دده حدیثونه محفوظ نه دي. (تهذيب التهذيب) ج (۵) ص (۱۹۲) راوی -۶۲۴۴ - حرف العين ميزان الاعتدال ج (۳) ص (۳۱۱)

خلاصه دا سوه چي دغه راوي په خپل روایت کښي متفرد هم دی او ضعیف هم دی، ددې وجهي څخه دا روایت منکَر دی، او بل په دې روایت کښي فقط د یوې شپې واقعه ذکر ده، او ددې سره سره دا احتمال هم سته چي نبي کريم ﷺ دي ددغه اته (۸) رکعاتو څخه مخکي یا وروسته تنها (یوازي) هم څه رکعاتونه کړي وي، لکه څرنګه چي داسي خبره د حضرت انس ﷺ په روایت کښي هم مذکوره ده. ( مجمع الزوائد ج (۳) ص (۳۰۴) حديث -۵۰۲۱ – ( باب قيام رمضان بروايت طبرانی و قال رجاله رجال الصحيح )

دوهم روایت د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت دی چي: رسول الله ﷺ په رمضان المبارک کښي شل (۲۰) رکعاته تراویح او وتر کوله، مګر د دې په سند کښي ابو شيبه ابراهيم بن عثمانؒ راوي کمزوره دی، ځکه نو دا روایت د سند د لحاظه صحیح نه دی، مګر څرنګه چي وروسته به معلومه سي چي د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي د امت تعامل د همدې مطابق وسو. (مصنف ابن ابي شيبهؒ (ج (۵) ص (۲۲۵) (باب کم يصلی في رمضان من رکعةٍ)، سنن کبری للبيهقي ( ج (۲) ص (۶۹۸) حديث - ۴۶۱۵ - باب ما روی فی عدد رکعات القيام في شهر رمضان )، مجمع الزوائد ج (۳) ص (۳۰۴) حديث - ۵۰۱۸ - باب قيام رمضان کښي )

دریم حدیث د ام المؤمنين عائشې صديقې ﷺ دی، د کوم چي په سوال کښي حواله ورکړل سوې ده، مګر په دې روایت کښي د

تراويحو يادونه نه ده سوې، بلكه د هغه لمانځه ذكر دى چي په رمضان او نورو مياشتو كښي به همیشه کیدی، نو ددې وجهي ددې روايت څخه هم د تراويح د ركعاتونو په تعين كښي مدد (كومك) نه ترلاسه كيږي.

چنانچه علامه شوكاني رح په نيل الاوطار كښي ليكي:

**والحاصل ان الذى دلت عليه احاديث الباب وما يشابهها هو مشروعية القيام في رمضان والصلاة فيه جماعة وفرادى فقصر الصلواة المسماة بالتراويح على عدد معين وتخصيصها بقراءة مخصوصة لم يرد به سنة** . (نيل الاوطار ) ج (۳) ص (٥٨) باب صلاة التراويح، مطبعة دار الحديث)

ترجمه: حاصل دادى چي ددغه باب احاديث او ددې سره مشابه نور احاديث چي په كومه خبره دلالت كوي هغه دا ده چي په رمضان المبارك كښي قيام كول او په جماعت يا يواځي لمونځ كول مشروع دى، نو تراويح په كوم خاص عدد كښي منحصر كول او په هغه كښي كوم خاص مقدار قرائت مقرر كول داسي يوه خبره ده چي په سنت كښي نه ده وارده سوې (نه ده راغلې).

## (۲)
# تراویح د حضرت عمرفاروق ﷺ په زمانه کښې

د نبي کریم ﷺ او حضرت ابوبکر ﷺ په زمانه کښې د تراویحو د جماعت باقاعده اهتمام نه کیدی، بلکې خلګو یوازې یا د کوچني کوچني جماعتو په شکل کښې کولې، تر څو اول حضرت عمر ﷺ هغوی پر یوه امام سره راجمع کړه. (صحیح بخاري ج (۱) ص (۲۲۹) باب فضل من قام رمضان).

دا کار د خلا فت فاروقي ﷺ په دوهم کال یعني ۱۴ هجري کښې وسو. (تاریخ الخلفاء ص ۱۲۱ تاریخ ابن کثیر ج۱ - ص۱۸۹ -)

د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې څو رکعاته تراویح کیدې؟ د هغه ذکر د حضرت سائب بن یزید صحابي ﷺ په حدیث کښې راغې، د حضرت سائب ﷺ څخه دا حدیث درې شاګردان نقل کوي: اول حارث بن عبد الرحمن بن ابی ذبابؒ، دوهم یزید بن خصیفهؒ، او دریم محمد بن یوسفؒ، ددوی درو سرو د روایاتو تفصیل په لاندې ډول دی.

## حارث بن عبد الرحمن رحمه الله تعالی

۱- د حارث بن عبد الرحمنؒ روایت علامه بدر الدین عینيؒ د

((بخاري)) په شرح ((عمدة القاري)) کښي د حافظ ابن عبد البرؒ په حواله داسي نقل کړی دی:

(قال ابن عبد البرؒ: وروى الحارث بن عبد الرحمن بن ابي ذبابؒ عن السائب بن يزيدؒ قال: كان القيام على عهد عمر ﷺ بثلاث وعشرين ركعة، قال ابن عبد البرؒ: هذا محمول على ان الثلاث للوتر) (عمدة القاري ج (۱۱) ص (۱۷۹) حديث -۲۰۱۰ - كتاب التراويح باب فضل قيام رمضان مكتبة رشيدية).

ترجمه: ابن عبد البرؒ وايي چي: حارث بن عبد الرحمن بن ابي ذبابؒ د حضرت سائب بن يزيدؒ څخه روايت کړی دی چي هغه وويل: د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي قيامه درويشت (۲۳) رکعاته وه، ابن عبدالبرؒ وايي: دا محمول دی پر دې باندي چي درې رکعاته د وترو وه. (يعني شل رکعاته تراويح او درې رکعاته وتر وه. مترجم)

## يزيد بن خصيفه رحمه الله تعالى

۲- د حضرت سائب ﷺ د دوهم راوي يزيد بن خصيفهؒ درې شاګردان دي: ۱- ابن ابي ذئبؒ، ۲- محمد بن جعفرؒ، ۳- امام مالکؒ. دا درې واړه په اتفاق سره د شلو رکعاتو تراويحو روايت نقل کوي.

(الف): د ابن ابي ذئبؒ روايت د امام بيهقيؒ په ((سنن کبرٰی)) کښي په لاندي سند سره مروي دی:

اخبرنا ابو عبدالله الحسين بن محمد الحسين بن فنجويه الدينوري

**بالدامغان، ثنا احمد بن محمد بن اسحاق السني، انبأنا عبدالله بن محمد بن عبدالعزيز البغوي، ثنا علي بن الجعد، انبأنا ابن ابي ذئب عن يزيد بن خصيفه عن السائب بن يزيد قال: كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب ﷺ في شهر رمضان بعشرين ركعة، قال: وكانوا يقرءون بالمئين، وكانوا يتوكأون على عصيهم في عهد عثمان بن عفان ﷺ من شدة القيام.** (من سنن كبرى للبيهقى ج - (۲) ص (۶۹۹) حديث - ۴۶۱۷ - باب ما روى فى عدد ركعات القيام فى شهر رمضان) .

**ترجمه**: ابن ابي ذئب رح د يزيد بن خصيفه رح څخه، او هغه د حضرت سائب بن يزيد ﷺ څخه روايت کوي چي: د حضرت عمر ﷺ په دور کښي په روژه کښي خلګو شل رکعاته تراويح کولې، او د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کښي به د ډيري قيامي په وجه خلګو په خپلو لکړو تکيه کوله.

ددې روايت سند ته امام نووي رح، امام عراقي رح، او حافظ سيوطي رح، صحيح ويلي دي. (اثار السنن ج (۱) ص (۴۷۲) باب التراويح بعشرين ركعة ،[1] تحفة الاحوذى ج (۳) ص (۲۳۵) حديث - ۸۰۶ - كتاب الصوم باب ماجاء فى قيام شهر رمضان)

( ب ): د محمد بن جعفر رح روايت د امام بيهقي رح په بل کتاب

[1] ليکن صاحب د تحفة الاحوذي ددې حديث پر سند اعتراض کړيدئ، او وايې چي ابو عبدالله بن فنجويه الدينوري، ولم اقف على ترجمته، او بيا وايي چي فمن يدعى صحة هذا الاثر فعليه ان يثبت كونه ثقةً قابلا للاحتجاج - او بيا پر النيموي اعتراض کوي او وائي: واما قول النيموى: هو من كبار المحدثين فى زمانه لا يسال عن مثله فمما لا يلتفت اليه، فان مجرد كونه من كبار المحدثين لا يستلزم كونه ثقة. وانا العبد الضعيف........ اقول ما اعترضه صاحب التحفة ليس مما ينبغى فان مجموع ما قاله من انه من كبار المحدثين فى زمانه و انه لا يسال عن مثله يفيد كونه ثقة لان عدم السؤال عن مثله ليس الالكونه ثقةً، والله سبحانه وتعالى اعلم - عصمنا الله تعالى من التعصب و التعسف (مترجم).

((معرفة السنن و الاثار)) کښي په لاندي سند سره مروي دی:

**اخبرنا ابو طاهر الفقيه، ثنا ابو عثمان البصري، ثنا ابو احمد محمد بن عبد الوهاب، ثنا خالد بن مخلد، ثنا محمد بن جعفر، حدثنى يزيد بن خصيفه عن السائب بن يزيد قال: کنا نقوم فی زمن عمر بن الخطاب ؓ بعشرين رکعة والوتر.** (نصب الراية ج٢ - ص - ١٥١ کتاب الصوم باب فی قيام شهر رمضان مکتبة حقانية بشاور).

**ترجمه**: محمد بن جعفر رح د يزيد بن خصيفه رح څخه او هغه د حضرت سائب بن يزيد ؓ څخه روايت کوي چي: موږ د حضرت عمر ؓ په زمانه کښي شل رکعاته او وتر کوله (شل رکعاته تراويح او وتر کوله. مترجم)

ددې روايت سند امام نووي رح په خلاصه کښي، علامه سبکي رح په ((شرح منهاج)) کښي، او علامه علي قاري رح په ((شرح موطا)) کښي صحيح بللی دی. (اثار السنن ج (٢) ص (٥٤) تحفة الاحوذی ج (٣) ص (٢٣٥) حديث - ٨٠٦ - باب ماجاء فی قيام شهر رمضان).

(ج): د يزيد بن خصيفه رح څخه د امام مالک رح روايت حافظ ابن حجر رح په ((فتح الباري)) کښي، او علامه شوکاني رح په ((نيل الاوطار)) کښي ذکر کړی دی، حافظ ابن حجر رح ليکي:

**وروی مالک من طريق يزيد بن خصيفه رح عن السائب بن يزيد ؓ عشرين رکعةً.** (فتح الباری ج (۴) ص (٣١٨) قديمي کتب خانه)

**ترجمه**: او امام مالک رح د يزيد بن خصيفه رح دطريق څخه د حضرت سائب بن يزيد ؓ څخه شل رکعاته نقل کړي دي.

او علامه شوکاني رح ليکي:

**وفي الموطا من طريق يزيد بن خصيفه**ؒ **عن السائب بن يزيد** ﷛ **انها عشرين ركعة.** (نيل الاوطار ج (۳) ص (۵۳) مطبوعه عثمانيه مصر) .

**ترجمه:** او په موطا کښي د یزید بن خصیفهؒ دطريق څخه د حضرت سائب بن يزيد ﷛ په روايت کښي شل رکعاته (تراويح) مروي دي.[۱]

**تنبیه:** کوم روايت چي حافظؒ د موطا په حواله ذکر کړی دی، ماته د موطا په موجوده نسخه کښي معلوم نه سو، ممکنه ده چي حافظؒ دي د موطا په کومه بله نسخه کښي ليدلی وي، یا دي په کوم بل کتاب کي وي او د شوکانيؒ د موطا لفظ ذکر کول د سهوي په وجه وي.

## محمد بن یوسف رحمه الله تعالی

۳ د حضرت سائب بن يزيد ﷛ د دريم شاګرد محمد بن يوسفؒ په روايت کښي د هغه د شاګردانو تر منځ اختلاف سوی دی چي په لاندي ډول دی:

**الف:** د امام مالکؒ او نورو څخه روايت دی چي حضرت

---

[۱] يادونه: د امام مالکؒ پورته سند چي د یزید بن خصیفهؒ څخه په کومه سلسله کښي راغلی دی، امام بخاریؒ هم بعينه په همدغه رجالو د امام مالکؒ څخه يو روايت نقل کړی دی يعني کوم سند چي دلته په کومو رجالو راغلی دی د امام بخاريؒ په سند کښي همدغه رجال دي البته د امام بخاريؒ حديث د تراويحو په موضوع کښي نه دی. (صحيح بخاری ج (۱) ص (۳۱۲) باب اقتناء الكلب للحرث، (دغه خبره يوائي موږ دلته د سند دقوت لپاره رانقل کړی ده، مترجم)

عمرؓ، ابي بن کعبؓ او تميم داريؓ ته د يوولسو رکعاتو تراويحو د ورکولو حکم کړی وو، لکه څرنګه چي داخبره په موطا کښي ذکر سوې ده.(موطا امام مالک ج (۱) ص (۹۸) مطبعة نورمحمد کراچي)

ب: ابن اسحاقؒ د محمد بن يوسفؒ څخه د ديارلسو (۱۳) رکعاتو (تراويحو) روايت نقل کوي. ( فتح الباری ج (۴) ص (۳۱۸) کتاب الصوم باب فضل من قام رمضان قديمي کتب خانه)

ج: داؤد بن قيسؒ او نور حضرات د محمد بن يوسفؒ څخه ديوويشتو (۲۱) رکعاتو (تراويحو) روايت نقل کوي. ( مصنف عبد الرزاق ج (۴) ص (۲۶۰) حديث - ۷۷۳۰ - باب قيام رمضان )

## د بحث خلاصه

د پورته تفصيل څخه معلوميږي چي د حضرت سائب بن يزيدؓ دوه شاګردان حارث بن عبد الرحمنؒ او يزيدبن خصيفهؒ او د يزيد بن خصيفهؒ درې سره شاګردان ابن ابي ذئبؒ، محمد بن جعفرؒ او امام مالکؒ متفق اللفظ دي (پر يوه خبره متفق دي) چي حضرت عمرؓ پر شل رکعاته تراويحو خلکۍ سره راجمع کړي وه. مګر د محمد بن يوسفؒ روايت مضطرب دی، ځکه چي بعضي شاګردان يې يوولس (۱۱) رکعاته، بعضي يې ديارلس (۱۳) او بعضي يې يوويشت (۲۱) رکعاته تراويح نقل کوي، د اصول حديث د قاعدې سره سم په مضطرب حديث استدلال نسي کيدلای.[1]

[1] تسير مصطلح الحديث ص (۱۱۱) مکتبة رحمانية لاهور، فتح المغيث شرح الفية الحديث للسخاوي ج (۱) ص (۲۵۶ -

لهذا نو د حضرت سائب ﷺ صحیح حدیث هم هغه دی کوم چي حارث بن عبد الرحمن رح او یزید بن خصیفه رح رانقل کړی دی.

او که چیري د محمد بن یوسف رح مضطرب او مشکوک روایت ته بیا هم اعتبار ورکړل سي او قابل لحاظ وشمېرل سي نو د دواړو روایتو تر منځ د تطبیق هغه صورت متعین دی کوم چي امام بیهقي رح ذکر کړیدی چي پر یوولسو (۱۱) رکعاتو یو څو ورځي عمل وسو بیا پر شل (۲۰) رکعاته (تراویحو) دا عمل قرار ونیوی، لکه څرنګه چي امام بیهقي رح د دواړو روایتو د ذکر کولو وروسته لیکي:

**ویمکن الجمع بین الروایتین، فانهم کانوا یقومون باحدی عشرة ثم کانوا یقومون بعشرین ویوترون بثلاث.** ( السنن الکبری للبیهقی ج (۲) ص (۶۹۹) باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان، مکتبة دار الکتب العلمیة بیروت ) .

**ترجمه**: د دواړو روایتونو ترمنځ تطبیق ممکن دی ځکه چي هغوی اول یوولس (۱۱) رکعاته کولې او وروسته یې شل رکعاته تراویح او درې رکعاته وتر کول شروع کړل. د امام بیهقی رح دا قول چي په عهد فاروقي ﷺ کښي د صحابه کرامو ﷺ اخیري عمل چي پر هغه قرار وسو شل (۲۰) رکعاته تراویح وې پردې قول باندي ډېر شواهد او قرائن موجود دي.

---

۲۵۷) بحث حدیث المضطرب.

## د امام بيهقيؒ پر تطبيق شواهد او قرائن

**اول**:....... امام مالکؒ کوم چي د محمد بن يوسفؒ **څخه** د يوولسو (۱۱) رکعاتو روايت نقل کوي، خپله دده مسلک د شل (۲۰) يا شپږ دېرش (۳۶) رکعاتو تراويحو دی، لکه څرنګه چي دا خبره په څلورم بحث کي راروانه ده، ددې څخه واضحه سوه چي دا روايت خپله د امام مالکؒ په نزد مختار او خوښ نه دی.

**دوهم**:....... ابن اسحاقؒ کوم چي د محمد بن يوسفؒ **څخه** د ديارلسو (۱۳) رکعاتو تراويحو روايت نقل کوي، **هغه** هم د شلو (۲۰) رکعاتو تراويحو روايت ته اثبت وايي، لکه څرنګه چي امام شوکانيؒ د شلو (۲۰) رکعاتو تراويحو د روايت **څخه** وروسته د **هغه** دا قول را نقل کړی دی:

**قال ابن اسحاق: وهذا اثبت ما سمعت فی ذالک.** (نيل الاوطار، ج (۳) ص (۵۳)

ترجمه: ابن اسحاقؒ وايي چي د تراويحو د رکعاتو د تعداد په باره کښي چي ما څه اوريدلي دي د هغو څخه تر ټولو زيات ثابت هم دغه تعداد دی.

**دريم**:........ د محمد بن يوسفؒ د يوولسو (۱۱) رکعاتو د روايت په تائيد کښي بل کوم روايت موجود نه دی، حال دا چي د سائب بن يزيد رضي الله عنه د شلو (۲۰) رکعاتو د تراويحو د روايت په تاييد کښي نور متعدد روايتونه هم موجود دي.

# د سائب بن یزید ﷛ د روایت په تایید کښې نور روایات

۱- د یزید بن رومانؒ روایت دی چي وايي:

**كان الناس يقومون فی زمان عمر بن الخطاب ﷛ فی رمضان بثلاث وعشرين ركعة.** (موطا امام مالک ص (۹۸) مطبوعه نور محمد کراچي السنن الکبری للبیهقی ج (۲) ص (۶۹۹) باب ما روی فی عددرکعات القیام فی شهر رمضان ، قیام اللیل ص (۹۱) طبع جدید ص (۱۵۷)

ترجمه: خلګو د حضرت عمر ﷛ په زمانه کښې درویشت (۲۳) رکعاته کوله (شل رکعاته تراویح او درې رکعاته وتر)

دا روایت د سند د لحاظه ډېر زیات قوي دی، مګر مرسل دی، ځکه چي یزید بن رومانؒ د حضرت عمر ﷛ زمانه نه ده موندلې، لیکن مرسل حدیث (چي کله په ثقه او په قابل اعتماد سند سره مروي وي) د امام مالکؒ، امام ابو حنیفهؒ، امام احمدؒ او جمهورو علماء کرامو رحمهم الله په نزد مطلقاً حجت (قابلِ استدلال) دی، البته د امام شافعيؒ په نزد د حدیثِ مرسل د حجت کیدو لپاره دا شرط دی چي د هغه تایید به د کوم بل مسند یا مرسل حدیث څخه سوی وي[1]، خو چونکه د یزید بن رومانؒ د زیرِ بحث روایت په تایید کښې متعدد نور روایات موجود دي، ځکه نو پورته حدیث په اتفاق د اهل علم حجت دی.

دا بحث خو د عامو مراسیلو په هکله وو، البته د موطا د

---

[1] ( تسیر مصطلح الحدیث ص (۷۱ - ۷۲) مکتبة رحمانیة لاهور ، فتح المغیث للسخاوي شرح الفیة الحدیث ج (۱) ص (۱۵۷) بحث مرسل مکتبة دارالکتب العلمیة بیروت )

مراسيلو په باره کښې د محدثينو دا فيصله ده چې هغه ټول صحيح دي.

لکه څرنګه چې امام الهند شاه ولي الله محدث دهلويؒ په حجة الله البالغة کښې ليکي:

**قال الشافعيؒ اصح الکتب بعد کتاب الله موطا مالکؒ. واتفق اهل الحديث على ان جميع مافيه صحيح على رأي مالکؒ ومن وافقه. واما على رأي غيره فليس فيه مرسل ولا منقطع الا قد اتصل السند به من طريق اخرى فلا جرم انها صحيحة من هذا الوجه. وقد صنف في زمان مالکؒ مؤطات کثيرة فی تخريج احاديثه، ووصل منقطعه، مثل کتاب ابن ابي ذئب، وابن عيينة، والثوري، ومعمر رحمهم الله.** (حجة الله البالغه ج (۱) ص (۳۰۵) باب طبقات کتب الحديث : الطبقة الاولى وحيدي کتب خانه)

**ترجمه:** امام شافعيؒ فرمايلي دي چې: د کتاب الله څخه وروسته اصح الکتب د امام مالکؒ موطا ده، او د محدثينو پر دې اتفاق دی چې په دې کښې څومره روايتونه دي هغه ټوله د امام مالکؒ او د هغه د موافقينو پر رايه صحيح دي، او د نورو پر رايه په دې کښې کوم مرسل او منقطع روايت داسې نسته چې د نورو طرقو څخه دي د هغه سند متصل سوی نه وي، نو په دې لحاظ ټول په ټوله صحيح دي، او د امام مالکؒ په زمانه کښې د موطا د احاديثو د تخريج لپاره او ددې لپاره چې د هغه منقطع روايتونه متصل ثابت کړل سي ډيري موطاوي تصنيف سوي دي. لکه: د ابن ابي ذئب، ابن عيينة، ثوری او معمر رحمهم الله کتابونه.

او بیا پر شلو رکعاتو اصل استدلال خو د حضرت سائب بن یزید رضي الله عنه د روایت څخه دی چې د هغه د صحیح کیدو تصریح مخکي تیره سوې ده، او د یزید بن رومان رح روایت یې یواځې د تائید لپاره ذکر کړل سو.

۲- د یحیی بن سعید انصاري رح روایت دی:

**ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه امر رجلا ان یصلی بهم عشرین رکعة.** ( مصنف ابن ابی شیبه ج (۵) ص (۲۲۳) حدیث -۷۷۶۴ -باب کم یصلی فی رمضان من رکعة)

**ترجمه:** حضرت عمر رضي الله عنه یوه سړي ته حکم وکړئ چې خلکو ته شل رکعاته تراویح ورکړي.

دا روایت هم سنداً قوي مګر مرسل دی. ( د مرسل په اړه د محدیثنو رایه مخکي تیره سوه ) ( مترجم )

۳- د عبد العزیز بن رفیع رح روایت دی:

**کان ابي بن کعب رضي الله عنه یصلي بالناس في رمضان بالمدینة عشرین رکعة ویوتر بثلاث.** ( مصنف ابن ابی شیبه ج (۵) ص (۲۲۴) حدیث - ۷۷۶۶ - باب کم یصلي فی رمضان من رکعة ).

**ترجمه:** حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه خلګوته د روژې په میاشت کي په مدینه منوره کښي شل رکعاته تراویح او درې رکعاته وتر ورکول (دا روایت هم مرسل دی).

۴- د محمد بن کعب قرظي رح روایت دی:

**کان الناس یصلون في زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه في رمضان عشرین رکعة یطیلون فیها القراءة ویوترون بثلاث.** ( قیام اللیل ص (۹۱) طبع جدید(۱۵۷)

**ترجمه**: خلګو د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي په رمضان المبارک کښي شل (۲۰) رکعاته تراويح کولې، او قرائت به يې پکښي اوږدوئ. او درې رکعاته وتر به يې کول، دا روايت هم مرسل دی او په قيام الليل کښي د دې سند نه دی ذکر سوی.

۵- په کنز العمال کښی خپله د حضرت ابي بن کعب ﷺ څخه منقول دي:

**ان عمر بن الخطاب ﷺ امره ان يصلي بالليل في رمضان، فقال: ان الناس يصومون النهار ولا يحسنون ان يقرأوا، فلو قرأتَ عليهم بالليل فقال: يا امير المؤمنين! هذا شيء لم يكن، فقال: قد علمتُ ولكنه حسن، فصلى بهم عشرين ركعة.** (كنز العمال ج (۸) ص (۱۹۲) حديث -۲۳۴۶۶ -قسم الا فعال باب صلوة التراويح)

**ترجمه**: حضرت عمر ﷺ هغه ته حکم وکړی چي دی دي په رمضان کښي خلګو ته د شپې لخوا لمونځ ورکوي، حضرت عمر ﷺ وفرمايل چي: خلګ د ورځي لخوا روژه نيسي ليکن قرائت ښه نسي ويلای نو کاشکي تا هغوی ته د شپې لخوا قرآن اورولای، ابي بن کعب ﷺ عرض ورته وکړئ: اې امير المؤمنين! دا خو يو داسي کار دی چي مخکي نه وو، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل: ماته معلومه ده، ليکن دا ښه کار دی، نو ابي بن کعب ﷺ خلګوته شل (۲۰) رکعاته تراويح ورکړې.

**څلورم**:..... د ذکر سوو رواياتو په رڼا کښي اهل علم ددې خبري

قائل دي چي حضرت عمر ﷺ خلك پر شل (۲۰) رکعاته تراويح را جمع کړه، او حضرات صحابه کرامو ﷺ د هغه سره موافقت وکړی، ځکه نو دا په منزله د اجماع سول، دلته موږ د دې موضوع په اړه د ځو اکابرو ارشادات را نقل کوو:

## حضرت امام ترمذي رحمه الله تعالی

۱- امام ترمذيؒ ليکي:

**واختلف اهل العلم في قيام رمضان: فرأى بعضهم ان يصلي احدى واربعين ركعة مع الوتر، وهو قول اهل المدينة والعمل على هذا عندهم بالمدينة، واكثر اهل العلم على ما روى عن علي ﷺ وعمر ﷺ وغيرهما من اصحاب النبي ﷺ عشرين ركعة وهو قول سفيان الثوريؒ وابن المباركؒ والشافعيؒ، وقال الشافعيؒ: وهكذا ادركت ببلدنا بمكة يصلون عشرين ركعة.** ( سنن ترمذي ج (۱) ص (۲۸۷) باب ماجاء في قيام شهر رمضان )

**ترجمه**: په تراويحو کښي د اهل علم اختلا ف دی، بعضي د وترو سره د يو څلويښت (۴۱) رکعاتو قائل دي، د اهل مدينه وو همدا قول دی او د هغوی په نزد په مدينه طيبه کښي پر همدې باندي عمل دی، او اکثره اهل علم د شلو رکعاتو قائل دي کوم چي د حضرت علي ﷺ، حضرت عمر ﷺ او د نورو اصحابو ﷺ څخه مروي دی، د سفيان ثوريؒ، عبد الله بن مبارکؒ او امام شافعيؒ همدغه قول دی: امام شافعيؒ فرمايي چي: ما په خپل ښار مکه مکرمه کښي

خلکۍ شل رکعاته تراویح کوونکي موندلي دي.

## حضرت علامه زرقاني المالکي رحمه الله تعالی

٢- علامه زرقاني مالکيؒ د مؤطا په شرح کښې د ابوالولید سلیمان بن خلف القرطبي الباجي المالکيؒ متوفی (٤٩٤ هجري) **څخه نقل** کوي:

**قال الباجيؒ: فامرهم اولاً بتطویل القراءة لانه افضل، ثم ضعف الناس فامرهم بثلاث وعشرین فخفف من طول القراءة، واستدرک بعض الفضیلة بزیادة الرکعات.** ( شرح الزرقاني على المؤطاء ج (١) ص (٢٣٩) هامش مؤطاء ص (٩٨) باب ماجاء في قیام رمضان )

**ترجمه:** باجيؒ وایي چي: **حضرت عمر** ﷺ **اول هغوی ته د** اوږده قرائت د ویلو حکم ورکړی ځکه چي هغه افضل دی، بیا یې د خلکو ضعف محسوس کړی نو د درویشت (٢٣) رکعاتو د کولو حکم یې ورکړ، نو د قرائت په اوږدوالي کي یې کمي وکړه او د رکعاتو په اضافه کولو سره یې د یو څه فضیلت تلافي وکړه.

**قال الباجي: وکان الامر على ذالک الى یوم الحرة فثقل علیهم القیام فنقصوا من القراءة وزادوا الرکعات فجعلت ستاً وثلاثین غیر الشفع والوتر.** ( زرقاني شرح مؤطا ج (١) ص (٢٣٩)

**ترجمه:** باجيؒ وایي چي: تر یوم حَره ( د حَره د ورځي واقعه) پوري د شلو رکعاتو عمل وو، بیا پر هغوی باندي قیامه درنه سوه نو په قرائت کښې کمي وکړل سوه او په رکعاتو کښې نوره اضافه وکړه سوه، نو د سنتو او وترو څخه علاوه (٣٦) رکعاته سول.

## حافظ ابن عبد البر رحمه الله تعالی

۳- علامه زرقاني رح همدغه خبره د حافظ ابن عبدالبر رح (۳۶۸ه،۴۶۳ه) او ابو مروان عبد الملک بن حبيب القرطبي المالکي رح (متوفی ۲۳۷ هـ ق) څخه رانقل کړې ده. (زرقاني شرح مؤطا ج (۱) ص (۲۳۲))

## حافظ موفق الدين رحمه الله تعالی

۴- حافظ موفق الدين ابن قدامه المقدسي الحنبلي رح (متوفي ۶۲۰ هجري) په خپل کتاب ((المغني)) کښې ليکي:

**ولنا ان عمر ﷺ لما جمع الناس على ابي بن كعب ﷺ كان يصلي لهم عشرين ركعةً.**

**ترجمه**: زموږ دليل دادی چې حضرت عمر ﷺ چې کله خلک پر ابي بن کعب ﷺ راجمع کړل نو هغه هغوی ته شل رکعاته تراويح ورکولې.

ددې سلسلې روايات، او همدارنګه د حضرت علي ﷺ د اثر د ذکر کولو وروسته ليکي:

**و هذا كالاجماع.**

**ترجمه**: نو دا داسي سوه لکه د صحابه وو ﷺ اجماع.

بيا د اهل مدينه وو د شپږ دېرشو (۳۶) رکعاتو د تعامل د ذکر کولو وروسته ليکي:

**ثم لو ثبت ان اهل المدينة كلهم فعلوه لكان مافعله عمر ﷺ واجمع**

**عليه الصحابة ﷺ في عصره اولى بالاتباع.**

**قال بعض اهل العلم: انما فعل هذا اهل المدينة لانهم ارادوا مساواة اهل مكة فان اهل مكة يطوفون سبعا بين كل ترويحتين فجعل اهل المدينة مكان كل سبع اربع ركعات، وما كان عليه اصحاب رسول الله ﷺ اولى واحق.** ( المغني لابن قدامة مع شرح الكبير ج (۱) ص (۷۹۹)

**ترجمه:** بيا هم که چيري ثابته سي چي اهل مدينه وو ټولو شپږ د پرش (۳۶) رکعاته کول نو کوم کار چي حضرت عمر ﷺ کړی دی او پر هغه کار د هغه زمانه کښي صحابه کرامو ﷺ اجماع هم کړې ده د اتباع (عملي کيدو) زيات حقداره دی، او عمل کول په هغه سره اولی او بهتر دي.

بعض د علم خاوندانو ويلي دي چي: د اهل مدينه وو اصلي مقصد د دې عمل څخه د اهل مکه وو سره برابري کول وه: ځکه چي اهل مکه وو د هرو دوو (۲) ترويحو تر منځ اووه شوطه طواف کاوه، نو اهل مدينه وو د طواف پر ځای د دوو (۲) ترويحو تر منځ څلور رکعاته اضافه کړل، نو په هر حال کوم عمل چي د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ وو هغه ډېر اولی او احق دی.

## امام محي الدين النووي رحمه الله تعالى

۵- امام محي الدين النوويؒ متوفى (۶۷۶ ه ق) په شرح المهذب کښي ليکي:

**واحتج اصحابنا بما رواه البيهقيؒ وغيره بالاسناد الصحيح عن السائب بن يزيد الصحابي ﷺ قال: كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب ﷺ في شهر رمضان بعشرين ركعة. الحديث** (المجموع شرح المهذب ج (۴) ص (۳۲)

**ترجمه**: زموږ اصحابو په هغه حديث دليل نيولی دی کوم چي امام بيهقيؒ او نورو محدثينو رحمهم الله د حضرت سائب بن يزيد ﷺ صحابي څخه په صحيح سند را نقل کړی دی چي خلګو د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي په رمضان المبارک کي شل رکعاته تراويح کولې.

امام نوويؒ وروسته د حضرت يزيد بن رومان ﷺ حديث ذکر کړی دی، او په هغه کي يې د امام بيهقيؒ تطبيق ذکر کړی دی، او د حضرت علي ﷺ اثر يې ذکر کړی دی، په هغه کي يې د اهل مدينه وو د فعل هغه توجيه کړی ده کومه چي د ابن قدامهؒ د کتاب (المغني) په عبارت کښي تيره سوه.

## علامه شهاب الدين احمد بن محمد قسطلاني رحمه الله تعالى

۶- علامه شهاب الدين احمد بن محمد قسطلاني شافعيؒ متوفی (۹۳۳هجري) د بخاري په شرح کښي ليکي:

**وجمع البيهقيؒ بينهما بانهم كانوا يقومون باحدى عشرة، ثم قاموا بعشرين واوتروا بثلاث، وقد عدوا ما وقع في زمن عمر ﷺ كالاجماع.** (ارشاد الساري ج (۳) ص (۴۲۶)

**ترجمه**: امام بیهقي رح هغه دواړه روایتونه داسي جمع کړیدي چي اول يې یوولس (۱۱) رکعاته کولې، بیا يې وروسته شل (۲۰) رکعاته تراویح او درې (۳) رکعاته وتر کول شروع کړه، او د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښي چي کوم معمول جاري سو علماوو هغه لکه اجماع داسي شمیرلی دی.

## علامه شیخ منصور بن یونس بهوتي حنبلي رحمه الله تعالی

۷- علامه شیخ منصور بن یونس بهوتي حنبلي رح متوفی (۱۰۴۶هجري) په ((کشف القناع عن متن الاقناع)) کي لیکي:

**وهي عشرون ركعة، لما روى مالك رح عن يزيد بن رومان رضي الله عنه قال: كان الناس يقومون في زمن عمر رضي الله عنه في رمضان بثلاث وعشرين ركعة .......... وهذا في مظنة الشهرة بحضرة الصحابة رضي الله عنهم فكان اجماعاً.** (كشف القناع عن متن الا قناع ج (۱) ص: ۳۹۲)

**ترجمه**: تراویح شل رکعاته دي څرنګه چي يې امام مالک رح د یزید بن رومان رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي: خلګو د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښي په رمضان المبارک کښي درویشت (۲۳) رکعاته تراویح کولې .......... او د حضرت عمر رضي الله عنه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په موجودیت کښي د شلو رکعاتو تراویحو حکم ورکول د عام شهرت موقع وه ځکه نو دا اجماع سول.

## مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله تعالى

۸- مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلوي رح په ((**حجة الله البالغة**)) کښي ليکي:

**وزادت الصحابة ﷺ ومن بعد هم في قيام رمضان ثلا ثة اشياء: الاجتماع له في مساجدهم وذالک لانه يفيد التيسير على خاصتهم وعامتهم، واداؤه في اول الليل مع القول بان صلاة آخر الليل مشهودة وهي افضل کما نبه عمر رضي الله عنه لهذا التيسير الذي اشرنا اليه، وعدده عشرون رکعة**. (حجة الله البالغة ج (۲) ص (۳۴) باب النوافل و منها قيام شهر رمضان وحيدي کتب خانه)

**ترجمه**: صحابه کرامو ﷺ او د هغوي څخه وروسته حضراتو د رمضان په قيامه کښي د درو (**۳**) شيانو اضافه وکړل:

(**۱**) د تراويحو لپاره په خپلو مساجدو کښي جمع کيدل، ځکه چي په دې سره د عامو او خاصو لپاره اساني حاصليږي.

(**۲**) د شپې په اول کښي اداء کول سره ددې خبري د منلو چي د شپې په آخره کښي و لمانځه ته د ملائکو حاضري کيږي، او دا افضل هم دي، څرنګه چي حضرت عمر رضي الله عنه پر دې باندي تنبيه هم کړې ده، مګر په اول د شپې کښي يې کول هم د دغسي اساني لپاره وه کومي ته چي موږ اشاره وکړه.

(**۳**) د شلو رکعاتو تعداد.

(۳)

# تراويح د صحابه كرامو ﷺ او تابعينو رحمهم الله تعالى په زمانه كښي

د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي د شلو رکعاتو تراويحو معمول شروع سو نو وروسته کم تر کمه د شلو رکعاتو تراويحو معمول پاته سو، د بعضي صحابه کرامو ﷺ او تابعينو رحمهم الله تعالى څخه تر شلو زيات روايات خو مروي دي ليکن د هيڅ چا څخه يوائي د اتو (۸) رکعاتو روايت نه دی مروي.

۱- د حضرت سائب بن يزيد ﷺ روايت مخکي تير سو چي په هغه کښي يې د حضرت عمر ﷺ د زمانې د شلو رکعاتو تراويحو معمول ذکر کړی دی او د هغه په سياق کښي يې دور عثماني ﷺ ته هم اشاره کړي ده.

۲- حضرت ابن مسعود ﷺ چي د هغه وفات د حضرت عثمان ﷺ د خلافت په اخر کښي سوی دی . هغه هم شل رکعاته تراويح کولې.

(قيام الليل ص (۹۱) طبع جديد ص (۱۵۷)

۳- عن ابي عبد الرحمن السلمي رح عن علي ﷺ انه دعا القراء في رمضان فامر منهم رجلا يصلي بالناس عشرين ركعة وكان علي ﷺ يوتر بهم.

( السنن الكبرى للبيهقي ج (۲) ص (۶۹۹) حديث -۴۶۲۰ - باب ما روى في عدد ركعات القيام في شهر رمضان )

ترجمه: ابو عبد الرحمن السلمي رح وايي چي: حضرت علي ﷺ په

رمضان المبارک کښي د قرآن کريم قاريان راوغوښتل، بيا يې د هغوي څخه يو شخص ته حکم ورکړ چي شل رکعاته تراويح دي ورکوي، او وتر حضرت علي ﷺ په خپله ورکول.

ددې په سند کښي پر حماد بن شعيبؒ باندي محدثينو کلام کړی دی، ليکن ددې سند متعدد شواهد موجود دي.

د عبد الرحمن السلميؒ دغه روايت شيخ الاسلام حافظ ابن تيميهؒ په خپل کتاب «منهاج السنة» کښي ذکر کړی دی، او د همدغه څخه يې استدلال کړی دی چي حضرت علي ﷺ د حضرت عمر ﷺ جاري کړي شل (۲۰) رکعاته تراويح د خپل خلا فت په دوره کښي باقي وساتلې. (منهاج السنة ج (۴) ص (۲۲۴)

حافظ ذهبيؒ په «المنتقى مختصر منهاج السنة» (ص : ۵۴۲) کښي د حافظ ابن تيميهؒ دغه استدلال بلانکيره ذکر کړی دئ.

نو ددې څخه معلومه سوه چي ددغه دواړو بزرګانو په نزد د حضرت علي ﷺ په دور کښي د شلو رکعاتو تراويحو معمول جاري وو. (المنتقى ص (۵۴۲)

**۴- عن عمرو بن قيسؒ عن ابي الحسناءؒ ان علياً ﷺ امر رجلا يصلي بهم في رمضان عشرين ركعة.** ( مصنف ابن ابى شيبه ج (۵) ص (۲۲۳) حديث - ۷۷۶۳ - باب كم يصلي في رمضان من ركعةٍ )

**ترجمه:** عمرو بن قيسؒ د ابو الحسناءؒ څخه روايت نقل کوي چي: حضرت علي ﷺ يو سړي ته حکم وکړئ چي خلګو ته دي په رمضان المبارک کښي شل رکعاته تراويح ورکوي.

**۵- عن ابي سعد البقال رح عن ابي الحسناء رح ان علي بن ابی طالب رضی الله عنه امر رجلاً ان يصلي بالناس خمس ترويحات عشرين ركعةً وفي هذا الاسناد ضعف.** (سنن کبری للبیهقي ج (۲) ص (۷۰۰) حدیث ۴۶۲۰ - باب ماروی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

**ترجمه:** ابو سعد بقال رح د ابو الحسناء رح څخه روایت نقل کوي چي: حضرت علي رضی الله عنه یو شخص ته حکم وکړئ چي خلګو ته دي پنځه ترویحاتي یعني شل رکعاته تراویح ورکوي.

امام بیهقي رح فرمایي چي: ددې حدیث په سند کښي ضعف دی، او علامه ابن الترکماني رح په ((الجوهر النقي)) کښي لیکي چي: ښکاره خبره خو داده چي د دې روایت په سند کښي ضعف د ابو سعد البقال رح په وجه دی چي متکلم فیه راوي دی، لیکن د مصنف ابن ابي شیبه په روایت کښي (چي مخکي ذکر سو) د دې روایت متابع موجود دی چي ددغه حدیث د ضعف تلا في په کیږي. (حاشیه سنن کبری للبیهقي ج (۲) ص (۷۰۰)

**۶- عن شتير بن شكل رح وكان من اصحاب علي رضی الله عنه انه كان يؤمهم في شهر رمضان بعشرين ركعةً ويؤتر بثلاث.** (سنن کبری للبیهقي ج (۲) ص (۶۹۹) حدیث - ۴۶۱۹ -باب ما روی فی عدد رکعات القیام في شهر رمضان ، قیام اللیل ص (۹۱) طبع جدید ص (۱۵۷)

**ترجمه:** شتیر ابن شکل رح چي د حضرت علي رضی الله عنه د ملګرو څخه وو، په رمضان المبارک کښي یې خلګو ته شل رکعاته تراویح او درې رکعاته وتر ورکول.

امام بیهقي رح د دې اثر د نقل کولو څخه وروسته ویلي دي: (وفي ذالک قوة) یعني په دې روایت کښي قوت دی، بیا یې ددې روایت په

تايید کښي د عبدالرحمن السلميؒ اثر ذکر کړی دی کوم چي مخکي تير سو.

**۷- عن ابي الخصيبؒ قال: كان يؤمنا سويد بن غفلةؒ في رمضان فيصلي خمس ترويحات عشرين ركعة.** ( سنن كبرى للبيهقي ج (۲) ص (۶۹۹) حديث - ۴۶۱۹ - باب ماروى في عدد ركعات القيام في شهر رمضان )

**ترجمه**: ابو الخصيبؒ وايي چي: موږ ته سويد بن غفلةؒ په رمضان المبارک کښي لمونځ راکاوه، نو پنځه ترويحاتي يعني شل رکعاته تراويح يې راکولې.

**قال النيمويؒ: و اسناده حسن.**( اثارالسنن ج (۱) ص (۴۷۴) حديث -۷۸۲ -باب فی التراويح بعشرين ركعة )

**ترجمه**: نيمويؒ فرمايي چي: ددې اثر اسناد حسن دی.

حضرت سويد بن غفلةؒ د کبارو تابعينو څخه شمېرل کيږي، هغه د جاهليت زمانه موندلې ده او د نبي کريم ﷺ په حيات مبارک کښي يې اسلام راوړی، ليکن د نبي کريم ﷺ زيارت يې نه وکړی، ځکه کومه ورځ چي سويد بن غفلةؒ مديني منورې ته راغی هغه ورځ د نبي کريم ﷺ تدفين وسو، ځکه نو د صحابيت په شرف مشرف نه سو، وروسته يې په کوفه کښې ژوند اختيار کړ، او د حضرت عبد الله بن مسعود ؓ او حضرت علي ؓ د خاصو ملګرو څخه وو، په (۸۰ هجري) کښي د ۱۳۰ کالو په عمر وفات سو. ( تقريب التهذيب ج (۱) ص(۴۰۴) راوي – ۲۷۰۳ - بحث حرف السين المهمله )

**۸- عن الحارثؒ انه كان يؤم الناس في رمضان بالليل بعشرين ركعة ويؤتر بثلاث و يقنت قبل الركوع.** ( مصنف ابن ابی شيبه ج (۵) ص (۲۲۴) حديث - ۷۷۶۷ -باب

کم يصلي فی رمضان من رکعة )

**ترجمه**: حارثؒ په رمضان کښي خلکو ته شل رکعاته تراويح او درې رکعاته وتر ورکول او د رکوع څخه مخکښي يې دعاء قنوت وايه.

**٩-** په ((قيام الليل)) کښي د عبدالرحمن بن ابي بکرهؒ، سعيد بن ابي الحسنؒ او عمران العبديؒ څخه نقل سوي دي چي دوي شل (٢٠) شپې شل (٢٠) رکعاته تراويح ورکولې او په اخري عشره کښي يې يوه ترويحه اضافه کوله. ( قيام الليل ص (٩٢) طبع جديد ص (١٥٨)

حارثؒ، عبدالرحمن ابن ابي بکرهؒ متوفی (٩٦ هجري) او سعيد بن ابی الحسنؒ متوفی (١٠٨ هجري) درې سره د حضرت علي ﷺ شاګردان دي.

**١٠-** ابوالبختريؒ هم شل (٢٠) رکعاته تراويح او درې رکعاته وتر ورکول. ( مصنف ابن ابی شيبه ج (٥) ص (٢٢٤) حديث -٧٧٦٧ - باب کم يصلي فی رمضان من رکعة )

**١١-** علي بن ربيعهؒ چي د حضرت علي ﷺ د شاګردانو څخه دی، شل (٢٠) رکعاته تراويح او درې رکعاته وتر يې ورکول. ( مصنف ابن ابی شيبه ج (٥) ص (٢٢٤) حديث – ٧٧٧٢ - باب کم يصلي فی رمضان من رکعة )

**١٢-** ابن ابي مليکهؒ متوفی (١١٧ هجري) هم شل رکعاته تراويح ورکولې. ( مصنف ابن ابی شيبه ج (٥) ص (٢٢٤) حديث - ٧٧٦٥ -باب کم يصلی في رمضان من رکعة )

**١٣-** حضرت عطاءؒ متوفی (١١۴ هجري) فرمايي چي: ما خلګ د وترو سره د درويشتو (٢٣) رکعاتو کوونکي موندلي دي. ( مصنف ابن ابی شيبه ج (٥) ص (٢٢٤) حديث - ٧٧٧٠ - باب کم يصلي فی رمضان من رکعة )

**١۴-** په موطا امام مالکؒ کښي د عبد الرحمن بن هرمز الاعرجؒ

متوفی (۱۱۷ هجري) روايت دی چي: ما خلګ په داسي حالت کښي موندلي دي چي هغوی په رمضان المبارک کښي پر کفارو لعنت وايه، او قاري به په اتو (۸) رکعاتو کښي سورة البقره ختمول، که به چيري هغه په دوولسو(۱۲) رکعاتو کښي سورة البقره ختم کړه نو خلګو به دا محسوسه کړه چي ده په قرائت کښي تخفيف وکړئ. (موطا امام مالکؒ ص (۹۹) باب ما جاء فی قيام رمضان , نور محمد کتب خانه ارام باغ)

ددې روايت څخه مقصود خو په تراويحو کښي د قرائت د اوږدوالي بيان کول دي، ليکن د روايت د سياق څخه معلوميږي چي يوائي په اتو (۸) رکعاتو اکتفاء (بس والی) نه کيده.

## د بحث خلاصه

خلاصه دا چي د کوم وخت څخه چي حضرت عمر ﷺ د تراويحو باقاعده جماعت جاري کړئ نو هميشه شل (۲۰) يا تر شل زياتي تراويح کيدلې، البته د حره واقعې ته قريب اهل مدينه وو د هري ترويحې په منځ کښي څلور رکعاته نور وراضافه کړل، د دې وجهي څخه نو هغوي د وترو سره يو څلويښت (۴۱) رکعاته کول، او بعضي نورو تابعينو هم د رمضان په اخيره عشره کښي اضافه کول.

نو په هر حال د صحابه کرامو ﷺ او تابعينو رحمهم الله تعالی په زمانه کښي د اتو (۸) رکعاتو تراويحو کولو بيخي ادنی ثبوت هم نه پيدا کيږي، ددي وجهي څخه نو چي کومو کسانو دا فرمايلي دي چي د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښي په شل (۲۰) رکعاته تراويحو د

صحابه کرامو ﷺ اجماع وسوه، د هغوي دا خبره پر حقيقت بنا ده ځکه چي حضرات سلفِ صالحين رحمهم الله تعالی پر دغه تعداد د اضافه کيدو خو قائل وه ليکن په دې تعداد کښي د کمۍ قول د هيچا څخه منقول نه دی.

نو دا خبره کول صحيح ده چي: د سلفو پر دې خبره اتفاق او اجماع وه چي د تراويحو کم تر کمه تعداد شل رکعاته دی.

(۴)

# تراویح د څلورو ائمه وو رحمهم الله تعالی په نزد

د امام ابو حنیفه‌رح، امام شافعي‌رح او امام احمد بن حنبل‌رح په نزد تراویح شل (۲۰) رکعاته دي، د امام مالک‌رح څخه په دې سلسله کښې دوه روایته منقول دي: یو د شلو(۲۰) رکعاتو او بل د شپږ دېرشو (۳۶) رکعاتو، لیکن د مالکي مذهب په متونو کښې د شلو رکعاتو تراویحو روایت اختیار کړل سوی دی، د فقه حنفي د کتابو څخه د حوالې ضرورت نسته، د نورو مذاهبو د مستندو کتابونو حوالې ستاسو حضورته وړاندي کیږي.

## فقه مالکي

قاضي ابو الولید محمد بن احمد مالکي‌رح متوفی (۵۹۵هجري) په ((بدایة المجتهد)) کښې لیکي:

**واختلفوا في المختار من عدد الرکعات التي یقوم بها الناس في رمضان، فاختار مالک في احد قولیه وابو حنیفة والشافعي واحمد وداؤد** رحمهم الله تعالی **القیام بعشرین رکعة سوی الوتر، وذکر ابن القاسم‌رح عن مالک‌رح انه کان یستحسن ستا وثلاثین رکعة والوتر ثلاث.** (بدایة المجتهد ج (۱) ص (۱۶۹) الباب الخامس في قیام رمضان)

ترجمه: په رمضان المبارک کښي څو رکعاته تراويح کول مختاره دي؟ په دې کښي د علماء کرامو اختلاف دی: امام مالکؒ د دوو قولو څخه په يوه قول کښي او امام ابو حنيفهؒ، امام شافعیؒ، امام احمدؒ او داؤدؒ د وترو څخه علاوه شل رکعاته اختيار کړي دي، او ابن قاسمؒ د امام مالکؒ څخه نقل کړي دي چي هغه درې (۳) رکعاته وتر او شپږ دېرش (۳۶) رکعاته تراويح خوښولې.

د ((مختصر الخليل)) شارح علامه شيخ احمد الدردير المالکيؒ متوفی (۱۲۰۱ هجري) ليکي:

**وهي (ثلاث وعشرون) ركعة بالشفع والوتر كما كان عليه العمل (اي عمل الصحابة والتابعين)** (الدسوقي)

**(ثم جعلت) في زمن عمر بن عبدالعزيز (ستاوثلا ثين) بغير الشفع والوتر لكن الذي جرى عليه العمل سلفا وخلفا الاول.** ( شرح الكبير للدردير مع حاشية الدسوقي ج (۱) ص (۳۱۵)

ترجمه: تراويح د وترو سره درويشت (۲۳) رکعاته دي، څرنګه چي د صحابه کرامو ﷺ او تابعينو رحمهم الله تعالى عمل وو، بيا د عمر بن عبد العزيزؒ په زمانه کښي د وترو څخه ماسوا شپږ دېرش (۳۶) رکعاته کړل سوې، ليکن په کوم تعداد چي د سلفو او خلفو هميشه عمل جاري وو هغه اول قول دی (په اعتبار د اتباع (مترجم)) (يعني شل (۲۰) رکعاته تراويح او درې (۳) رکعاته وتر).

# فقه شافعي

امام محي الدين نووي﵀ متوفی (۶۷۶ هجري) په ((**المجموع شرح مهذب**)) کښي ليکي:

**(فرع) في مذاهب العلماء في عدد رکعات التراويح، مذهبنا انها عشرون رکعة بعشر تسليمات غير الوتر، وذالک خمس ترويحات، والترويحة اربع رکعات بتسليمتين، هذا مذهبنا، وبه قال ابوحنيفة﵀ واصحابه رحمهم الله تعالى واحمد﵀ وداؤد﵀ وغيرهم، ونقله القاضي عياض﵀ عن جمهور العلماء، وحکي ان الاسود بن يزيد ﵁ کان يقوم باربعين رکعة ويوتر بسبع، وقال مالک﵀ التراويح تسع ترويحات وهي ستة وثلاثون رکعة غيرالوتر**. (المجموع شرح المهذب ج (۴) ص (۲۳)

**ترجمه**: د تراويحو د رکعاتو په تعداد کښي د علماوو د مذاهبو بيان:

زموږ مذهب دادی چي تراويح شل (۲۰) رکعاته دي په لسو (۱۰) سلامو سره د وترو څخه علاوه، داپنځه ترويحې کيږي، يوه ترويحه څلور رکعاته په دوو سلامو سره، امام ابو حنيفه﵀ او دهغه شاګردان، امام احمد﵀، امام داؤد﵀ او نور هم د شلو (۲۰) رکعاتو تراويحو قائل دي، او قاضي عياض﵀ داخبره د جمهورو علماوو څخه رانقل کړې ده، او دا خبره نقل سوې ده چي: اسود بن يزيد ﵁ څلوېښت (۴۰) رکعاته تراويح او اوه (۷) رکعاته وتر ورکول، او امام مالک﵀ فرمايي چي: تراويح نهه (۹) ترويحې دي، او دا د وترو څخه علاوه شپږ دېرش

(۳۶) ركعاته كيږي.

## فقه حنبلي

حافظ ابن قدامه المقدسي الحنبلي‌رح متوفی (۶۲۰ هجري) په ((المغني)) كښي ليكي:

**و المختار عند ابي عبدالله‌رح فيها عشرون ركعة، وبهذا قال الثوري وابو حنيفة والشافعي رحمهم الله تعالى، وقال مالك‌رح: ستة وثلاثون.** (المغني لابن قدامه ج (۱) ص (۷۹۸ ، ۷۹۹) مع الشرح الكبير)

**ترجمه:** د امام احمد‌رح په نزد په تراويحو كښي شل (۲۰) ركعاته مختاره دي، امام ثوري‌رح، ابو حنيفه‌رح او شافعي‌رح هم د دې قائل دي، او امام مالك‌رح د شپږ دېرش (۳۶) ركعاتو تراويحو قائل دی.

# د بحث خاتمه او یو څو ضروري فوائد

د مسک الختام په ډول یو څو ضروري فوائد درته ویل غواړم تر څو د شلو (۲۰) رکعاتو تراویحو اهمیت په ذهن کي کښېني.

## (۱) شل رکعاته تراویح سنت مؤکد دي

د حضرت عمر ﷺ د مشرانو صحابه کرامو ﷺ په موجودیت کښي شل (۲۰) رکعاته تراویح جاري کول، د صحابه کرامو ﷺ په هغه نکیر (انکار) نه کول، او د صحابه کرامو ﷺ د زمانې څخه تر نن ورځې شرقاً او غرباً د شلو رکعاتو تراویحو مسلسل تعامل کیدل، ددې خبري دلیل دی چي دا د الله تعالی په محبوب دین کښي داخل عمل دی، ځکه د الله تعالی قول دی:

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ الآیة، سورة النور، آیت (۵۵).

**ترجمه**: الله تعالی د خلفاء راشدینو ﷺ لپاره هغه دین ته قرار او قدرت وربخښونکی دی کوم چي الله تعالی د دوي لپاره خوښ کړی دی.

په ((الاختیار شرح المختار)) کښي لیکلي دي:

**روی اسد بن عمرو عن ابي یوسف رح قال: سالت ابا حنیفة رح عن التراویح وما فعله عمر ﷺ، فقال: التراویح سنة موکدة، ولم یتخرصه**

**عمر رضی الله عنه من تلقاء نفسه، ولم يكن فيه مبتدعاً، ولم يامر به الا عن اصل لديه وعهد من رسول الله ﷺ، ولقد سنَّ عمر رضی الله عنه هذا وجمع الناس على ابي بن كعب رضی الله عنه فصلا ها جماعة والصحابة رضی الله عنهم متوافرون، منهم عثمان وعلي وابن مسعود والعباس وابنه وطلحة والزبير ومعاذ وأُبي وغيرهم من المهاجرين والانصار** رضي الله عنهم اجمعين، **وما رد عليه واحد منهم، بل ساعدوه ووافقوه وامروا بذالک.** ( الاختيار لتعليل المختار ج (١) ص (٦٨) لشيخ الامام ابى الفضل محمد مجد الدين عبدالله بن محمود الموصلى الحنفي متوفى (٦٨٣ هجري)

**ترجمه**: اسد بن عمرو رح د امام ابو يوسف رح څخه روايت کوي چې: ما د امام ابو حنيفه رح څخه د تراويحو او د حضرت عمر رضی الله عنه د فعل په اړه سوال وکړی، نو هغه راته و فرمايل چې: تراويح سنت مؤکد دي، او حضرت عمر رضی الله عنه هغه د خپله ځانه څخه نه دي اختراع (جوړي) کړي، او نه هغه د کوم بدعت ايجاد کوونکی وو، هغه چې کوم امر کړی دی هغه ديو اصل پر بنا وو کوم چې دده سره موجود وو، او د رسول الله ﷺ پر يو عهد باندي بنا وو، حضرت عمر رضی الله عنه دا سنت جاري کړئ او خلک يې پر حضرت أُبي بن کعب رضی الله عنه راجمع کړل، بيا هغه خلګوته د تراويحو جماعت ورکړئ، هغه وخت صحابه کرام رضی الله عنهم په کثير تعداد کښي موجود وه، چې د هغوي څخه حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت ابن مسعود، حضرت عباس، حضرت عبد الله بن عباس، حضرت طلحه، حضرت زبير، حضرت معاذ، او نور مهاجرين او انصار رضي الله عنهم اجمعين ټول موجود وه مګر د دوي څخه يوه هم رد ونه کړئ، بلکه ټولو د حضرت عمر رضی الله عنه موافقت وکړئ او

ددې حکم يې وکړئ.

## (٢) د خلفاء راشدينو د جاري کړي سنت په باره کښې د نبي کريم ﷺ وصيت

مخکې معلومه سوه چې شل رکعاته تراويح د درو خلفاء راشدينو ﷺ سنت دی او د خلفاء راشدينو ﷺ د سنت په باره کښې د نبي کريم ﷺ مبارك ارشاد دی:

**انه من يعش منكم بعدي فسيرى اختلافاً كثيراً، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ، واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلا لة.** ( رواه احمد وابوداؤد والترمذی وابن ماجه مشکوة ج (١) ص (٣٠) باب الا عتصام بالکتاب و السنة الفصل الثاني )

ترجمه: کوم شخص چې زما څخه وروسته ژوندی پاته سي هغه به ډېر اختلافات ويني، نو زما سنت او زما د خلفاء راشدينو مهديينو ﷺ سنت پر تاسو لازم دي، او ټينګ يې ونيسئ، او د زامی په غاښو يې ټينګ کړئ، او د نوو نوو خبرو څخه ځانونه وساتئ، ځکه چې هره نوې خبره بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده.

د پورته مبارک حديث څخه د خلفاء راشدينو ﷺ د اتباع تاکيد معلوميږي او دا چې ددوي مخالفت بدعت او ګمراهي ده.

## (۳) د څلورو ائمه وو رحمهم الله تعالی د مذهب څخه وتل جائز نه دي

د مخکني بحث څخه معلومه سوه چي ائمۀ اربعه ټول تر ټوله د شلو(۲۰) رکعاتو تراويحو قائل دي، د ائمۀ اربعه ووؒ اتباع د سواد اعظم اتباع ده، او د مذاهبو اربعه وو څخه وتل د سواد اعظم څخه وتل دي، مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلويؒ په ((عقد الجيد)) کښي ليکي:

**قال رسول الله ﷺ: اتبعوا السواد الاعظم. ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم والخروج عنها خروجاً عن السواد الاعظم.** ( رواه ابن ماجه من حديث انس كما في مشكوة ج (۱) ص (۳۰) باب الا عتصام بالكتاب و السنة و تمامه فانه من شذ شذ في النار عقد الجيد ص (۳۷) مطبوعه تركيه )

**ترجمه:** د رسول الله ﷺ ارشاد دی چي: د سواد اعظم اتباع وکړئ، او کله چي ددغه څلورو مذاهبو څخه ماسوا باقي حق مذاهب ختم سوه نو ددغه څلورو مذاهبو اتباع د سواد اعظم اتباع ده، او ددغه څلورو مذاهبو څخه وتل د سواد اعظم څخه وتل دي.

## (۴) د شلو رکعاتو تراويحو حکمت

د امت حکماوو هر يوه د خپل ذوق مطابق د شلو رکعاتو تراويحو حکمتونه هم بيان کړي دي، خو دلته موږ د دريو اکابرو بزرګانو

ارشادات رانقل کوو:

١- په ((البحر الرائق)) کښې يې د شيخ ابراهيم الحلبي الحنفي رح متوفي (٩٥۶ هجري) څخه رانقل کړيدي:

**وذكر العلامة الحلبي رح ان الحكمة في كونها عشرين ان السنن شرعت مكملات للواجبات وهى عشرون بالوتر، فكانت التراويح كذالک، لتقع المساواة بين المكمِل والمكمَل انتهى.** ( البحر الرائق ج (٢) ص (١١٧) باب الوتر و النوافل بحث و سن في رمضان عشرون ركعة بعد العشاء )

ترجمه: علامه حلبي رح ذکر کړي دي چې: د تراويحو په شلو رکعاتو کيدو کښې حکمت دادی چې: سنتونه د فرائضو او واجباتو د تکميل لپاره مشروع سوي دي، او پنځه وخته فرائض سره د وترو شل رکعاته کيږي نو ځکه تراويح هم شل رکعاته سوې، تر څو د مکمِل (مکمل کوونکي) او مکمَل (مکمل کړل سوی) تر منځ مساوات راسي.

٢- علامه منصور بن يونس حنبلي رح متوفی (١٠۴۶ هجري) په ((کشف القناع)) کښې ليکي:

**والسر فيه ان الراتبة عشر فضوعفت في رمضان لانه وقت جد.** ( كشف القناع عن متن الا قناع ج (١) ص(٣٩٢)

ترجمه: په شلو رکعاتو تراويحو کښې حکمت دادی چې سنت مؤکده لس (١٠) دي، پس په رمضان کښې يې دوه چنده کړل، ځکه چې دا د محنت او رياضت وخت دی.

۳- حکیم الامت شاه ولي الله محدث دهلويؒ ددې خبري د ذکر کولو وروسته چي صحابه کرامو ﷺ د تراويحو رکعاتونه شل کړه، د هغه حکمت دا ليکي:

**وذالک انهم رأوا النبی ﷺ شرع للمحسنین احدی عشرة رکعة في جمیع السنة، فحکموا انه لا ینبغي حظ المسلم في رمضان عند قصده الا قتحام في لجة التشبه بالملکوت اقل من ضعفها.** ( حجة الله البالغه ج (۲) ص (۳۴) باب النوافل بحث و منها قیام شهر رمضان )

**ترجمه:** دا ځکه چي هغوی وليدل چي نبی کريم ﷺ د محسنينو لپاره يوولس (۱۱) رکعاته (د قيام الليل) په ټول کال کښي مشروع کړل، نو ددوي فيصله دا سوه چي په رمضان المبارک کښي چي کله مسلمان د ملکوت سره د تشبيه کيدو په درياب کښي دغوټې وهلو قصد لري نو دده حصه بايد د ټول کال د رکعاتو څخه تر دوه چنده کمه نه وي.

**وصلی الله تعالی علی سید الانبیاء محمد وعلی آله وصحبه اجمعین**

تاريخ الاختتام: ۲۹ / ذوالقعده / ۱۴۲۹ ه ق، د پنج شنبې ورځ

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

Download from: aghalibrary.com